UNITED NATIONS
HUMAN RIGHTS COUNCIL

MEDIA
ADVISORY

# د نړیوالې دوره یي بیا کتنې (UPR) له لوري به د افغانستان د بشري حقونو رپوټ و ارزول شي.

**ژنیو ( د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۲۴مه)** - د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۲۹مه نیټه د دوشنبه په ورځ به د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورى د نړیوالې دوره یي بیا کتنې (UPR) کاري ټیم له لوري د افغانستان د بشري حقونو رپوټ د څلورم ځل لپاره  په ژنیو کې د یوې غونډې په ترڅ کې وارزول شي، چې دغه غونډه به په ژوندۍ بڼه د ویبسایټ [webcast live](webcast live) له لارې خپره شي.

افغانستان یو له هغو ۱۴ هیوادونو څخه دی چې د نړیوالې دوره یي بیا کتنې کاري ټیم به یې د خپلې راتلونکې غونډې په ترڅ کې وارزوي، چې د اپریل له ۲۹مې څخه د مې تر لسمې نیټې تر سره کیږي. د افغانستان لومړنۍ بیا کتنه د ۲۰۰۹ کال د مې په میاشت کې او دویمه بیا کتنه د ۲۰۱۴ په جنورۍ کې او همدارنګه دریمه بیا کتنه د ۲۰۱۹ په جنورۍ کې تر سره شوه.

د UPR کاري ډله د بشري حقونو د شورا له ۴۷ غړو هېوادونو څخه جوړه ده. که څه هم، د ملګرو ملتونو د ۱۹۳ غړو هیوادونو څخه هر غړی کولی شي د یو هیواد په بیاکتنه کې برخه واخلي.

هغه اسناد چې پر بنسټ یې بیا کتنه تر سره کیږي: ۱) ملي رپوټ - هغه معلومات چې د ارزونې لاندې د هېواد له لوري چمتو شوي ؛ ۲) هغه معلومات چې د بشري حقونو د خپلواکو متخصصینو او ګروپونو په رپوټونو کې شتون لري، چې د ځانګړو کړنلارو، د بشري حقونو د تړونونو بنسټونو او د ملګرو ملتونو نورو ادارو په نوم پیژندل کیږي؛ ۳) هغه معلومات چې د بشري حقونو د ملي ادارو، سیمه ییزو موسساتو او د مدنې ټولنې ډلو په ګډون د نورو ښکیلو ادارو له خوا برابر شوي وي.

هغه درې رپوټونه چې د اپریل په ۲۹مه نیټه د افغانستان د بیاکتنې بنسټ جوړوي، [دلته](دلته) د لاسرسي وړ دي.

**ځای**: ژنیو، د ملتونو ماڼۍ، تالار نمبر ۲۰
**وخت او نیټه**: دوشنبه، د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۲۹مه، له غرمې وروسته له ۲:۳۰ – ۶:۰۰ (د ژنیو پر وخت، دوه ساعته)

دوره یي بیا کتنه (UPR) یوه ځانګړې پروسه ده، چې پکې د ملګرو ملتونو ټولو ۱۹۳ غړو هیوادونو د بشري حقونو د ریکارډ دوره یي بیا کتنه تر سره کیږي. په داسې حال کې چې لومړۍ غونډه یې د ۲۰۰۸ کال په اپریل کې تر سره شوې وه، د ملګرو ملتونو ټول ۱۹۳ غړي هیوادونه د دوره یي بیا کتنې په لومړي، دویم او دریم پړاو کې وارزول شول. د دوره یي بیا کتنې په څلورم  پړاو کې یو ځل بیا له هیوادونو څخه تمه کیږي، تر څو دهغو سپارښتنو په اړه د ګامونو پورته کولو اړوند څرګندونې وکړي چې د بیا کتنې په تیر پړاو کې ورته

ورکړل شوې وې او دوی يې د تعقيب ژمنه کړې وه، او همدارنګه د بشري حقونو په برخه کې د هيواد پرورروستيو پرمختګونو رڼا واچوي.

محمد نصير انديشه، د افغانستان د اسلامي جمهوريت دايمي استازی به د افغانستان د پلاوي مشري کوي.

د درې هيوادونو استازي، چې د افغانستان د بيا کتنې راپور به وړاندې کوي، بروندي، هند او هالنډ هيوادونه دي.

دغه غونډه به د https://media.un.org/en/asset/k1x/k1x2w76w0u ويبسايټ له لارې خپريږي.

د وينا کوونکو لست او هغه ټولې دلاسرسي وړ ويناوې چې د افغانستان د بيا کتنې په اوږدو کې به وړاندې کيږي، دلته[UPR Extranet](#) او په دې لينک کې خپريږي.

ټاکل شوې چې د دوره يي بيا کتنې (UPR) کاري ټيم د ۲۰۲۴ کال د مې مياشتې په ۳ مه نيټه له غرمې وروسته د ۳:۳۰ او ۶:۰۰ بجو تر منځ هغه سپارښتنې چې افغانستان ته چمتو شوي، و مني. تر بيا کتنې لاندې هيواد کولای شي د هغو سپارښتنو پر وړاندې، چې د بيا کتنې پر مهال ورته وړاندې شوي، خپل دريځ بيان کړي.

پای

د لازياتو معلوماتو او رسنيزو غوښتنو لپاره مهرباني وکړئ د بشري حقونو د شورى له مطبوعاتي مشر پاسکال سيم  سره په ***simp@un.org*** او د بشري حقونو شورى د مطبوعاتي اړيکو له مشرانو متيو براون ***matthew.brown@un.org*** او ډيويډ ډياز مارټين ***david.diazmartin@un.org*** سره اړيکه ونيسئ.

د دوره يي بيا کتنې (UPR) په اړه د لازياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره دغه ويبسايټ ته مراجعه وکړئ.
***www.ohchr.org/en/hr-bodies/upr/upr-main***

**د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورى په اړه موږ د ټولنيزو رسنيو له لارې تعقيب کړئ:**
Twitter  YouTube Instagram  Facebook